# د رحیم شاه رحیم د شعري مجموعې *پېکړې* تجزیاتي څېړنه"

"A Critical and Analytical Study of Rahim Shah Rahim's Poetry Collection Pekray"

Muhammad Sajid[1]
Dr. Noor Muhammad Danish Bettani [2]

**Abstract:**
*The late Rahim Shah Rahim was born on 4 April 1954 in the village of Aqlmand, near Mingora, Swat. He was a distinguished literary figure of the region, known as a poet, prose writer, critic, and historian. Three of his poetry collections—"Pekray," "Gharzhnai," and "Zalzalay", have been published, while his other works remain preserved in manuscript form. Among his published poetic works, "Pekray" was his first book. This research article presents an analytical study of that collection.*

**Keywords**:- Pashto, literature, Prose, poetry, Pekray

د سوات سیمې د غرونو په لمنو کښې پروردګار د ادب داسې ګلونه او لوړ قد چنارونه ټوکولي دي چې د خوشبو نه ئې ګرده نړۍ معطره ده ـ په هر دور کښې داسې لوړ قده شخصیتونه تېر شوې دي چې د ادب په کتابونو کښې د خنده رویه پېغلې غوندې د زړۀ د سکون سبب دے ـ رحیم شاه رحیم هم د فطرت په دغه خوږه غېږه کښې سترګې پرانستې دي او دغه د تخلیق کاریګري او هنرمندي ئې په رګونو کښې په موجونو ده ـ که څه هم د هغۀ ابا و اجداد د سوات د سیمې سره په صدو وړندې په نورو سیمو کښې ژوند کولو خو د خوش بحتۍ نه د رحیم شاه رحیم د زېږون ټاټوبے سوات دے ـ هم په دغه اساس ترې الله تعالٰی د ادب په مېدان کښې مثالي کار اخستے دے ـ

> "اروابناد رحیم شاه رحیم په مینګوره سوات کښې د عقلمند په کور کښې د کال ۱۹۵۴ء اپریل د میاشتې په څلورم تاریخ پېدا شوے ؤ" ـ [1]

ابتدائي زده کړې ئې هم دغلته په مینګوره کښې پرائمري سکول او تر لسم پورې د بڼ سکول نه سر ته رسولي دي ـ د دې نه پس

[1] PhD research scholar, Pashto academy, University of Peshawar
[2] Chairman Department of Pashto, University of Pashawar

ئې دولسم او څوارلسم د سوات د لوئې او مشهورې درسګاه ګورنمنټ پوسټ ګریجوېټ جهانزېب کالج مینګورې نه کړې دي ــ روستو ئې د پرائېوېټ امیدوار په توګه پښتو انر، ایم اے اسلامیات، ایم اے اردو ډګریانې ترلاسه کړې دي ــ په دې حواله سعیدالله خادم داسې رقم طراز دے:

> "دوي لسم جماعت د ګورنمنټ هائي سکول نمبر 1 مینګورې نه په 1972 کښې پاس کړے ؤ ــ دولسم جماعت ئې د ګورنمنټ پوسټ ګریجوېټ جهانزېب کالج مینګورې نه په 1975 کښې او د دې ادارې نه ئې څوارلسم جماعت په 1978 کښې پاس کړو ــ "[2]

> "او په 1980کښې د پېښور یونیورسټۍ نه شپاړسم پاس کړو ــ دوي شپاړسم اردو او شپاړسم اسلامیات ډګریانې دواړه حاصلې کړې وې" ــ [3]

د رحیم شاه رحیم د ادبي قد او قامت په حقله سیال کاکړ لیکي چې

> "په سوات کښې محمد نواز طائر، حمد پروېش شاهین او رحیم شاه رحیم هغه لوئے نومونه دي چې د خپلو ژورو ادب ي خدماتو له کبله د پښتونخوا په هر لیکوال باندې ګران دي ــ د سوات هم دغه ارکانِ ثلاثه دي چې پښتو ئې په ملي احساس پښتني وجدان روزلې ده ــ هم دغه ارکانو څخه رحیم شاه رحیم هغه ځوان لیکوال او جانانه شاعر دے چې په خوراورین تندي د پښتو خدمت کوي " ــ[4]

د رحیم شاه شاعرۍ د هر چا زړۀ ته افیل کړے دے او هغوي منلې ده ځکه چې ده هم هغه څۀ وئېلي دي کوم چې فطرتاً د هغه په ذهن او زړۀ کښې وو ــ ډاکټر سلمٰی شاهین په دې حقله وائي چې

> "د رحیم شاه رحیم نظمونه ټول فني لوازمات پوره کوي او زما خیال دا دے چې زۀ به ښاغلي رحیم شاه ته دا رائے ورکړم چې هغه د غزل په ځائے نظم ته زیاته توجو ورکړي ــ هغه لا زلمے دے او خدائے دې

وکړي چې په راتلونکي وخت کښې د پښتو ادب دپاره
یو ښۀ سپېځلے او د قدر وړ لیکوال شي ــ د داسې
زلمو سره د ژبې او ادب ډېر توقعات وابسته وي ــ
"[5]

د دې نۀ هېرېدونکي او نۀ هېرونکي لیکوال، ادیب، شاعر، ناول نګار، تاریخ نوېس او د طنز و مزاح مړني په حقله د دۀ د سیمې یو قلم کار داسې جذبات خپل قلم ته سپاري:

"د یو شاعر په حېث ئې د ننګ و ناموس دپاره قلم راوچت کړے دے او خوشحال خان خټک "سوات نامه" لیکې ده په جواب کښې "جواب نامه" لیکلې ده او بیا ئې د یو شاعر په حېث خپل احساسات او جذبات هم قلمبند کړي او مونږ ته ئې د "پېکړې" "غرځنې" او "زلزلې" غوندې کتابونه په نومومو ډالۍ کړي دي ــ "[6]

د ذکر شوو د پښتو ادب د لویو شخصیتونو لیکونه د دغه هستۍ په حقله دا دلالت کوي چې دا لوړه قده شخصیت د شاعرۍ په مېدان کښې یو نۀ هېرېدونکے شهسوار دے ــ

د رحیم شاه رحیم په شاعرۍ کښې زمونږ سره درې مجموعې "پېکړې" "غرځنې" او "زلزلې" چاپ دي او نور اثار ئې د قلمي نسخو په شکل کښې خوندي دي ــ د دوي د شاعرۍ په چاپ کتابونو کښې وړومبے کتاب "پېکړې" دے ــ چې په دې تحقیقي مقاله کښې به ئې تجزیاتي څېړنه کوم

## پېکړې:

پېکړې د ښاغلي رحیم شاه رحیم د ځوانۍ د وخت د شاعرۍ کتاب دے په کوم کښې چې د مینې، محبت، سوز او درد، د عاشق معشوق د زړۀ راز او نیاز او د سوو لوو اسوېلو داستانونه د شعر په ژبه خوندي کړے شوي دي ــ په دې حواله حیم شاه په خپله د کتاب "پېکړې" په خپلو خبرو کښې لیکي چې:

"پېکړې زما د سکول د زماني مجموعه کلام دے ــ په
دې مجموعه کښې ټول هغه نظمونه او غزلیات شامل
دي کوم چې ما وخت په وخت اکثر د سکول د جلسو

او مباحثو دپار د اتم او لسم جماعت (۱۹۷۰ء نه ۱۹۷۲ء) په دوران کښې ډېر په کچه عمر کښې لیکلي دي ــ "7

د دوي د دغه وینا نه څرګنده ده چې دا ده دۀ د سکول او ماشومتوب د زماني شاعري ده چې روستو ئې د ملګرو په وینا چاپ کړې ده ــ

پېکړې د پښتون ثقافت او کلتور یو داسې پېژندلے شوے کالے دے چې کله هم د سوز او ساز محفل جوړ شوے او یا په کوژدن وادۀ کښې پېغلو او مشرانو ښځو د فن مظاهره کړې ده نو د پېکړو شړنګار ئې د هر زلمي، ځوان او بوډا غوږونو ته رسېدلې د ــ ځکه خو پښتانۀ وائي چې

"مړے په ژړا او ښادي په ټنګ ټکور ښائسته ښکاري" که چرته هم جونو لاسونو ته بنګړي، پوزې ته نتکی او غوږونو ته والی اچولي دي نو د پښو ښائست "پېکړې" ئې هم نۀ دي هېرې شوي ــ دا به د کوژدن، وادۀ او سنت په وخت کښې د ګډا ښائست ګڼلے شو ــ د دې اواز به ځان له یو زړۀ راښکونکي موسیقي وه ــ لیکوال هم د دغه پېکړو نه متاثره ښکاري ځکه ئې د خپل کتاب نوم "پېکړې" خوښ کړے دے ــ لیکوال په اړه په خپله هم لیکي چې

> "پخوا به پښتونخوا او خصوصاً په سوات کښې د دې کالي ډېر رواج ؤ ــ پښتنې پېغلې چې به د لرې نه راښکاره شوې نو په لاره به ئې د پېکړو د "شړنګ شړنګ شړنګ" زړۀ راښکونکے اواز او روح خوشحالونکي موسیقی په چاپېرچل د مستی او خمار یو کیف خور کړو ــ غزل هم چونکې د شاعری یو داسې صنف دے چې پکښې یو موسیقیت وي نو په دې وجه پېکړې د ساز او اواز، لطیفې موسیقی دویم نوم دے ــ "8

د دې کتاب رحیم شاه د عبدالمتین مرحوم په نوم بانديې تړون کړے دے او ذکر ئې کړے دے چې دا خواخوږے دوست زمونږ نه مرګ بې وخته وړے دے ــ د دې کتاب په اوله کښې په څلورم او پنځم مخ باندې ئې خپلې خبرې لیکلي دي چې پکښې د دې شاعرئ د زمانې او نوم ذکر شوے دے ــ د خوش قسمتی نه چې د رحیم شاه

دا کتابي شکل اولنی هڅه ده خو بیا پرې هم د پښتو شعر و ادب لوئې هستۍ حمزه بابا سریزه لیکلې ده چې دا د راتلونکي څېړنکارانو، ادیبانو او شاعرانو دپاره لویه او ثانه نې لرونکې هڅه ده او د لیکوال د شاعرۍ دپاره لوئې دلیل دے ــ حمزه بابا په د سریزه کښې د رحیم شاه رحیم د لیک او وینا نه متاثره شوے دے او هغه ئې دلته خپل قلم ته سپارلي دي ــ لیکي چې

"زۀ د یو څو ورځو دپاره مینګورې ته راغلے وم او دلته زما سره د پاکستان سنټر له خوا د یو ماښام تېرولو انتظام شوے ؤ چې محرک ئې زما ګران دوست فضل اکبر خان ډپټي کمشنر سوات ؤ ــ نو د هغو زلمو او نیم زالو شاعرانو کلامونه مې واورېدل کوم چې د سوات د خاورې سره تعلق لري ــ په زړۀ کښې مې وئېل چې د خوشحال بابا د هغه خوب عملي تعبیر لګیا دے خېژي چې د پښتو د ناوې پلو چا نۀ دے پورته کړے او بیا په دې ماښام چې رحیم شاه رحیم زما په فن باندې في البدیعه تقریر اوکړو حېران ورته پاتې شوم ځکه چې تقریر ئې بېخي نۀ ؤ لیکلے ــ ما په دې کتاب ډېر څۀ لیکلي ؤ خو دلته مې استوګنه ډېره لږه ده نو ځکه مې په دې مختصرو الفاظو ئې ختم کوم او ننګیالو پښتنو ته خواست کوم چې هغوي د دې کتاب ضرور مطالعه اوکړي او د پښتو د ترقۍ او پېش رفت په لړ کښې د هر پښتو کتاب مطالعه ضروري اوګڼي ــ "[9]

د حمزه بابا د دومره درون او علمي لیک نه دا برېښي چې که هر څو دا شاعري د ښاغلي لیکوال د سکول د زماني اولنۍ تجربه ده خو بیا هم په تول پوره ده ځکه چې شاعري د زده کولو هنر نۀ دے دا یو افاقي پېرزونه ده نو ځکه ئې د عمر سره څه دومره تعلق نشته ــ او دا خبره روستو ثابته شوه دا لوئے نابغه لیکوال د سوات د خاورې داسې ځلنده ستورے ثابت شو چې د قلم د خوشبو نه ئې ګرده پښتونخوا معطر شوه ــ

پېکړې په دوو برخو کښې ویشلے شوي دي اولنۍ برخه په غزلو مشتمله ده چې ټولې غزلې پکښې ۵۸ دي ــ دا غزلې د یولسم مخ نه

واخله تر د اویایمّ که پورې مشتملې دي ـ دَ خ یو اویایم ۷۱ نه نظمونه شروع شوې دي چې د کتاب د خاتمې مخ نمبر ۱۱۰ یو سل لس پورې دي ـ دا ټول نظمونه ۲۵ پنځه ویشت دي ـ اوس راځو د کتاب اولنی برخې د غزل موضوعاتي جاج ته ـ

انسان ن چې په دنیا کښې پېدا شوے دے نو ډېرې تودې سړې ورسره ملګري شوې دي چې د پېدائش نه واخله تر مرګه پورې ورسره د ژوند په هر ډګر مل دي چې چرته ترې هم جدا شوې نۀ دي ـ دغه تودو سړو د انسانانو روئې، خویونه، عادتونه او د فن لارې د یو بل نه جدا کړي دي ـ د چا نه ئې شاعر جوړ کړے دے او د چا نه مصور د چا نه فلسفي او داسې نورو ډېرو خویونو عادتونو او خصلتونو سره د دغه تودو سړو د برکته یاد شوې دي ـ شاعر هم د دغه جذباتو، احساساتو نوم دے چې شاعر ئې د قلم په ذریعه کاغذ ته سپاري چې روستو د ادب یوه برخه اوګرځي او قارئین پکښې خپله هغه تنده سړوي کومه چې لیکوال د لیک په ذریعه شاعري کړې وي ـ

رحیم شاه هم په هغه توده، خواره او بد قسمته خاوره پښه اېښې ده چې تر اوسه پورې پښتون چرته د سکون ساه وانۀ غسته ـ امن ډیر لوئے غنیمت دے ځکه خو ابراهیم علیهِ السلام هم دعا غوښتې وه چې "یا الله زما ښار د امن ځائے وګرځوې"په قران کریم کښې ارشاد دے:

"وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّ اجْعَلْ هَٰذَا الْبَلَدَ آمِنًا"[10]

ژباړه: او کله چې ابراهیم ووئېل: اے زما ربه! دا ښار امن والا وګرځوه.

هم دارنګه په سورة ابراهیم کښې هم ورته دعا راغلې ده:

"رَبِّ اجْعَلْ هَٰذَا الْبَلَدَ آمِنًا وَاجْنُبْنِي وَبَنِيَّ أَنْ نَعْبُدَ الْأَصْنَامَ"[11]

ژباړه: اے زما ربه! دا ښار امن والا کړه او ما او زما اولاد د بتانو له عبادته وساته

د دې امن په سلسله کښې د دۀ مشرانو د وطن نه کډې هم کړې وې چې مشران پکښې د بنګال د نوم سره منسوب وو نو د رحیم شاه شاعري هم هغه ټول موضوعات لري کوم چې د ژوند د تودو سړو

سره تعلق لري او یا د حسن او جمال سره ـ ځکه چې انسان که هر څو په توده زمکه ولاړ وي خو په حسن پسې څټ خامخا اړوي ـ په دې خاوره کښې چې څوک هم ژوند کوي نو هغه به د خپلې خاورې امین وي ـ ځکه چې څوک چرته هم خرپوسي اوکړي او د وطن اوبهٔ او دانه اوخوري نو د دې خاورې او وطن مینه د دهٔ د ژوند برخه اوګرځي ـ د دې کتاب غزل ډېر موضوعات لري خو څه زړهٔ راښکونکي پکښې دا دي:

## حقیقي مینه/ شاعري:

انسان د الله تعالٰی غوره مخلوق دے دا دنیا هم پرور دګار دې خپل خلیفه لي پېدا کړي ده او ټوله دنیا ئې ورله تابع ګرځولې ده ـ نو انسان هر څهٔ کولے شي خو خپل رب نهٔ شي هېرولے ـ که دے هر څومره سرکشي اوکړي خو بیا هم خپل رب ته متوجه کېږي ـ نو رحیم شاه رحیم د دې کتاب په غزل کښې هم دغه رب سره د مینې انګازې برېخي چې څهٔ شعرونه د حوالې په توګه دا رنګې دي ـ

سر ومال به د الله په لورې ورکړي
د رحیم که اشنا لږ څهٔ زړهٔ له
ورشي"[12]

په دې حواله د دهٔ یو پوره غزل د حوالې په توګه راوړلے شي ـ

هسې زړهٔ مې د دنیا ځنې دلګیر شي
تصور چې د عقبا راته تصویر شي
مرېده د دې دنیا په حرص نشته
که دولت ئې د قارون غوندې خنزیر شي
ځان ته اوګورم چې فکر ګور ته اوکړم
ملامته راته هسې خپل ضمیر شي
څوک به څهٔ په دنیا ځان په امیر بولي
چې ایمان شي سلانت نو خود امیر شي
د غفلت پردې ګزارے کړه رحیمه
توبه ګار شه چې معاف دې زر تقسیر شي"[13]

## مذکور شخصيات:

دنيا د زده کړي ځائے دے په هر ډګر او هره پېښه کښې څۀ نه څۀ زده کړه کېږي خو ډېره زده کړه انسان د بل انسان به کوي ــ دغه رنګ مخکښې تېر شوے خلق، روستنے خلق يا دوي که په ښۀ وي که په بده ــ شاعري هم د ژوند د کندو کړمو پېداوار دے نو په دې کښې هم په مختکفو موقعو باندې ښۀ او نا ښۀ کامياب او ناکام، ورک او مشهور هر قسمه شخصياتو ذکر کېږي ــ رحيم شاه هم دلته په خپل غزل کښې د څه خلقو ذکر کړے دے چې څه په دې ډول دے:

لقمانِ حکيم:

که لقمان غوندې دانا او هنر ورشي
خو چې ستا په مينه ګېر شي کور وکر شي"[14]

يعقوب عليهِ السلام:

د يعقوب غوندې په تا پسې شمکور شوم
بينائي به واپس راشي خو شال نشته"[15]

کله نا کله په انسان غونے زيږ زيږ شي او ولې به داسې نۀ کېږي چې انسان له ربِ کائنات کوم خواص خمسه ورکړي دي نو د رب ورکړه لاثاني وي نو چې کله څوک د رب په کائناتو کښې د هغه کاريګري اووينې نو ورته ګوته په خپله پاتې شي او کله نا کله چې انسان په غوږونو څه واوري نو بيا هم ګوته په خله وي ــ ما چې د رحيم شاه دا شعر ولوستو نو زۀ هم حېران دريان پاتې شوم ــ که د يعقوب عليه السلام دپاره د يوسف مينه د هغه نظر وو نو د رحيم شاه دپاره د چا شال هم د مسيحا نه کم نۀ دے ــ او دا خو په ژوند کښې اورېدلي او تجربه کړې خبرې دي چې څوک د چا په معيار برابر وي نو د هغه خامۍ ورته خوبۍ ښکاري ــ د هغه ليدل او يا ورسره مشغولېدل د هر قسمه دارو نه ډېر سودمن وي ــ

حضرت عمر رضي الله عنه:

واوېلا فریاد مې څوک په غور واوري
هی افسوس چې د عمر عدالت نشته"[16]

منصور بن حلاج:

چې خپل ځان ئې ستا په مینه کښې په دار
کړو
ګرېوان څیرې لیونے منصور راغلے"[17]

مجنون:

کور کلے مې پرېښود ستا په مینه کښې مجنون
شومه
ګرځم ګرېوان څیرې خېراتې دې تورو سترګو
کړم"[18]

لیلٰی:

خبرې هر رنګ دي رحیمه لیکن
ډېرې خوږې دي د لیلا خبرې"[19]

حمزه بابا چې د رحیم شاه رحیم په دې کتاب لیکل کول او هغه هم صرف دومره چې د هغه یو تقریر ئې اورېدلے ؤ او بیا ئې ورله د شاعرئ کتاب اوکتلو نو د دې نه دا اندازه کېږي چې د رحیم شاه شاعري په ټول پوره او د سین په کانې تللې ده ـ د هغه د غزل هره موضوع زړۀ راښکونخې ده که هغه حقیقي ده او که مجازي ده، که د سوز او ساز خبرې دي او یا وطن مینه ده، په دې پاتې نورو موضوعاتو کښې به د هغه د شاعرئ درونوالے، خوږ والے او زړۀ راښکونکې مناظر ښکاره شي ـ

محبوب سره مینه:

د ښاغلې ټوله شاعري د محبوب په درد و غم کښې لړلې ښکاري د حوالې دپاره دلته یو غزل او څه شعرونه ټاکلے شي ـ

یاري جفاکاره محبت خو لږ کوه
څنګه عنایت ئې عنایت خو لږ کوه
سترګو دې په زړۀ یمه ویشتلے یم زخمي
مینه دې افت دے دا افت خو لږ کوه
ظلم او جفا خو ستا عادت شو اوس اشنا
خوښ مې دا عادت دے دا عادت خو لږ کوه
ته چې راښکاره شې په ګلشن راشي بهار
بند دې وصالت دے وصالت خو لږ کوه"[20]

په لاندېنو شعرونو کښې دمحبوب سره د مېنې اظهار په دې ډول کوي

"اشنا د غم غشے خوړلے نۀ دے
زما په شانې دړدېدلے نۀ دے
هسې چې ګورم طبیبان ډېر دي
زما د رنځ طبیب راغلے نۀ دے"[21]

فطرت نګاري:

انسان د فطرت پېداوار دے چې په دې دنیا کښې انسان اوسېږي نو د فطرت د ښکلاګانو، سیندونو، ونو، بوټو، مرغو، او خوږو خوږو نظارو او اوازونو سره اشنا کېږي او هم په دغه کښې د روح تسکین لټوي ـ دغه نظارې او سرودونه د فطرت سره د مینې سبب او خالقِ کائنات د مظهر وسیله وي ـ او شاعر خو فطرت ډېر د نزدې نه مشاهده کوي او چې څۀ محسوسوي نو د قلم ژبې ته ئې سپاري ـ لکه چې رحیم شاه وائي:

"د بصر نه چې مې نم لکه سېلاب ځي
دا جهلم دریاب بهېږي که چناب ځي
یا شبنې د پشکال جوړې راکې شوې
یا چپې د سمندر دي په شناب ځي
د ګلشن په زیړو ګلو خزان راغے
څکه نن ترې بلبلان سینه کباب ځي"[22]

د دې کتاب "پېکرې" دويمه برخه نظمونه دي چې ټول تعداد ئې ۲۵ دے ــ دا نظمونه د موضوع په لحاظ سره په مختلفو نومونو ليکلے شوي دي چې څۀ دا رنګ دي ــ

د خيالونو دنيا، د قسمت ستورے، د زماني هوا، خالي جام، ياد، د زړۀ سکون، د سحر باد، د يار زړۀ، غازي ته، فرياد، د ميني چپې، وژړېدم، د رقيب دپاره، د ميني انصاف، سوال، جهان پرېښودم، د زلمي ژوند، غم ته، د اوښکو سېلاب، قدرت، جشنِ ايران، د بېدارى غږ، د وخت اواز، وېړيا نسخه، د متين په ياد کښې ــ

دا نظمونه د يو اويايم دے ۷۱مخ نه واخله تر د ۱۱۰مخه پورې په کتاب کښې ليکلے شوي دي ــ څه رنګ چې د ښاغلي رحيم شاه غزل په تول تللے او په معيار پوره دے نو دغه شانتي نظم هم ثاني نۀ لري ــ د نظم دپاره خو د غزل نه زياته موقع ځکه وي چې په يوه موضوع پکښې په فراخه مټ ليکل کېدے شي ــ نو دې ليکوال هم په نظم کښې د خپل زړه براس ويستلے دے او د خپلې خوښې موضوعات ئې پکښې راغونډ کړي دي ــ او بيا ئې د دې کتاب رنګينه برخه ګرځولې ده ــ څنګه چې د بره ورکړې شوي موضوعاتو نه ښرګنده ده نو په نظم کښې په هر اړخ ډېر څه وئېلې دي چې قاري ته ئې د کتو سره د زړۀ تسکين کېږي او ادبي تنده ئې ماتېږي ــ د هغه په نظم چې هر څومره بحث اوکړے شي کم دے خو دلته زۀ خبره د هغه د نظمونو حوالو راغونډوم ــ "د زماني هوا" موضوع لاندې څۀ دا رنګه ګويا دے:

"راغله زمانه نوې بدله ئې هوا کړله

ظلم ئې شروع کړو په هر لورې ئې جفا کړله

خلق خود غرضه شو سينو نه ئې محبت لاړو

نشته چا کښې رحم هسې ورکه ئې وفا کړله

زور شوه بد امني، شرم، غېرت چا ته اودرېږي نۀ

ټې وي فېشنونو خو تباه ګوره دنيا کړله

لاړلو وختونه شو بدل حق ګوئي نشته دے

جوړه بې ننګي شوله هر چا لرې حیا کړله

خلاص به نۀ شي چرې بې رحیمه فکر مۀ کوه

خبر که غلیمانو پټه هسې برخه ستا کړله"[23]

دا نظم ئې په ۱۹۷۰ء کښې د جهانزیب کالج په مشاعره کښې اورولے ؤ چې په کتاب کښې ئې ورته نېټه او ځائے لیکلے دے ـ

د وطن په مینه هر ځوک مست وي خو ځینې خلق پکښې د سر قربانۍ ته ځان رسوي او د سر نزرانه پېش کوي چې د هر چا د قسمت او د وس خبره نۀ ده ـ دې له الله پاک خپل خپل خلق پېدا کړے دے چې هغه هم په دغه وخت دغه نزرانه پېش کوي ـ دلته هم د ده غازي نومې نظم په دغه موضوع دے ـ

غازي ته:

"زړۀ کښې د وطن مینه رګونو کښې غېرت لرې

لوړې حوصلې لرې همت او لوئے عظمت لرې

ته به تر قیامته لرې بل د ازادۍ شمع

ته خو یا غازي ئې یا مقام د شهادت لرې

ستا د توري شړنګ دے په دشمن لکه ګزار د بم

خپل وطن د ځان سره د قوم یو امانت لرې

ټوله دنیا ستا په شجاعت باندې قائله ده

بر په ټول جهان د کارنامو نشان اوچت لرې"[24]

که مونږ د ده په نظم خبره کوو او یا ئې موضوعات څېړو نو قیصه نوره هم اوږدېږي خو دلته د دۀ په دې حوالو اکتفا لولے شي او د نورې مکالمې او زده کړې دپاره د ده کتاب "پېکړې" موجود دے ـ د دې کتاب په اخره کښې "د متین په یاد کښې" نومې نظم لیکلے شوے دے او په باقه دوه مخونو باندې د ده د چاپ او ناچاپ کتابونو فهرست موجود دے چې هغه د کار اندازه ترې ډېره په اسانه لګولے شي ـ

د پورتني بحث نه دا خبره په واضحه توګه ثابتېږي چې د رحيم شاه رحيم دا شعري مجموعه په فني او فکري توګه په تول پوره ده، کۀ څۀ هم دا د مغوي وړومبی شعري ټولګه وه

حوالې[25]

---

[1] سعيدالله خادم، اداګانې د قلم، مارچ، ۲۰۲۰ء، زاهد بشير پرنټر لاهور، مخ، ۲۳۳
[2] سعيدالله خادم، اداګانې د قلم، مخ، ۲۳۳
[3] سعيدالله خادم، اداګانې د قلم، مخونه، ۲۳۳، ۲۳۴
[4] رحيم شاه رحيم، غرڅنی، اګست، ۱۹۹۰، منظور عام پرېس پېښور، مخ، ۷
[5] رحيم شاه رحيم، غرڅنی، مخ، ۱۵
[6] اداګانې د قلم، مخ، ۲۳۴
[7] رحيم شاه رحيم، پېکړې، ۱۹۷۸، مکتبه رحمٰن سنز مینګوره سوات، مخ، ۴
[8] رحيم شاه رحيم، پېکړې، مخ، ۵
[9] رحيم شاه رحيم، پېکړې، مخونه، ۹، ۱۰
[10] القران، سورة البقره، آيت ۱۲۶

[11] القران، (سورة ابراهيم، آيت ۳۵

[12] رحيم شاه رحيم، پېکړې، مخ، ۱۵
[13] رحيم شاه رحيم، پېکړې، مخ، ۳۸
[14] رحيم شاه رحيم، پېکړې، مخ، ۱۵
[15] رحيم شاه رحيم، پېکړې، مخ، ۲۴
[16] رحيم شاه رحيم، پېکړې، مخ، ۳۷
[17] رحيم شاه رحيم، پېکړې، مخ، ۴۵
[18] رحيم شاه رحيم، پېکړې، مخ، ۴۵
[19] رحيم شاه رحيم، پېکړې، مخ، ۴۶
[20] رحيم شاه رحيم، پېکړې، مخ، ۲۶
[21] رحيم شاه رحيم، پېکړې، مخ، ۲۱
[22] ر حيم شاه رحيم، پېکړې، مخ، ۲۳
[23] رحيم شاه رحيم، پېکړې، مخ، ۷۳

[24] رحيم شاه رحيم، پېکړې، مخ، ۸۰

References:

1. Saeedullah Khadim, *Adagane da nqalam*, March 2020, Zahid Bashir Printers Lahore, Makh 233
2. Hum dagha Makha 233
3. Hum Dagha Makhoona, 233, 234
4. Raheem Shah Raheem, *Gharsanai,* August 1990, Manzoor e Aam press Peshawar, Makh 7
5. Hum dagha, 15
6. Saeedullah Khadim, *Adagane da nqalam*, Makh 234
7. Raheem Shah Raheem, *Pekarray,* 1978, Maktaba e Rehman sanz, Mingora, Swat, Makh 4
8. Hum Dagha, Makh 5
9. Hum Dagha, Makhoona 9, 10
10. Alquran, *soora e Baqara*, Ayat 126
11. Alquraan, *Soora E Ibrahim*, Ayat 35
12. Raheem Shah Raheem, *Pekarray,* Makh 15
13. Hum Dagha, Makh, 38
14. Hum Dagha, Makh, 15
15. Hum Dagha, Makh, 24
16. Hum Dagha, Makh, 37
17. Hum Dagha, Makh, 45
18. Hum Dagha, Makh, 45
19. Hum Dagha, Makh, 46
20. Hum Dagha, Makh, 46
21. Hum Dagha, Makh, 21
22. Hum Dagha, Makh, 23
23. Hum Dagha, Makh, 73
24. Hum Dagha, Makh, 80